رحیمه پښتونجار

۲۰۱۲/۱/۲۲

# وارث ته





ولې مې رټې ولې له ځانه مې شړې ګرانه؟

ولې را نه ځې، ولې یوازې مې پرېږدې ګرانه؟

ځان دې په وطن کې پښتنو ته شرموې ګرانه؟

ته مې شوې وارث د ارمانونو د شیبو ګرانه

ماچې زړه راتول کړ له دردونو له غمو ګرانه

اوس مې له حارث، بلاله ولې بېلوې ګرانه؟

ته پوهېږې ولې د مور حق ځان ته یو نام لري؟

ځکه چې جنت د مور د پښو لاندې مقام لري

ته له دې جنته سترګې ولې اړوې ګرانه؟

تا باندې زړګیه واجب کړی حق زما الله

هر مومن لپاره یې فرض کړی حق د مور الله

ولې مې عزت په سپکو سپاندو خرڅوې ګرانه؟

راشه اوږه راکړه، لاس مې ونیسه چې رېږدمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**ستا په اندیښنو کې یمه ورکه زه پرېږمه**

**ګوره چې غورځېږم نور مې ولې څوروې ګرانه؟**

**ته مې د سر سیوری، هم د ننګ هم د غیرت سیوری**

**ستا په سر و لیرې د هر غم او هر ستم سیوری**

**اوس مې د عزت پوړنی ځانه سره وړې ګرانه**

**زه دې ته څورېږم داسې ورځ درباندې رانشي**

**تاته  پښتنو کې جوړ د ننګ دا یو پیغور نشي**

**مور چې ساتی نشي دا وطن به څنګ ساتې ګرانه؟**

**ومې کړه پوښتنه هم دې مور هم دې عزت یمه**

**ما پورې سرلوړی هم دې ننګ هم دې غیرت یمه**

**ولې مې د غرب وږو لیوانو ته پرېږدې ګرانه؟**

**ډیره موده وشوه چې رنځوره در پسې یمه**

**ځان نه یم بې ځانه د طبیب په ارادې یمه**

**ښوک مې تورې زلفې ښوک ښکلا راته ستائې ګرانه**

**تا دې خپله مور چې د پردو وطن کې پرېښوده**

**داسې بې اسرې دې کړه سر توره مور دې پرېښوده**

**نور به دې طعنو ته سترګې هروخت  تیتوې ګرانه**

**ته بې ننګه نه ئې، بې ننګي پرېږده بې ننګوته**

**راشه د عزت پوړنی بیرته کړه په سر مورته**

**بیا به پښتنو کې سترګې څنګه غړوې ګرانه؟**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ